# د امریکی د عدلیه وزارت
# د فدرال تحقیقاتی شعبه

**د فوری خپرونی**
دوشنبه، مارچ ۹، ۲۰۱۵

**تماس: واشنګتن سیمه ایز دفتر**
۳۵۱۹ - ۲۷۸ - ۲۰۲
www.fbi.gov/washingtondc

***د رابرت اې لونسن د ورکیدو اتمه کلیزه***
***دهغه معلوماتوچه د موقعیت موندل او مصئون بیرته راتګ سبب شی جایزه ۵ میلیونه ډالرو تر حده پورې زیاته شوه.***

واشنګټن: د ایران د کیش د جزیری څخه د رابرت اې لونسن د ورکیدو د اتمی کلیزی په مناسبت د فدرالی تحقیقاتی شعبی (اف بی ای)چی د لونسن د موقعیت د معلوماتوموندل او د هغه مصئون بیرته راتګ سبب وګرځی جایزه ۵ میلیونه ډالرو ته اضافه کړه.
د اف بی ای رئیس جیمز ب . کومی وویل « نن مونږ د باب لونسن په ایران کی د ورکیدولو اتم کلیزه کی یو او مونږ غوارو چی د باب د موندلو او د هغه خپل کورنی ته د مصئون بیرته راتګ جایزه ۵ میلیونه ډالرو ته زیاته کړو». هغه زیاته کړه «مونږ د هر هغه کسانونه چه معلومات لری نه هیله کوو چه د اف بی آی سره تماس ونیسی. باب د دی نه دیر پخوا باید خپل کورته راغلی وو.»

د ۲۰۰۷ کال د مارچ میاشت په اتم تاریخ ، رابرت ای لونسن د ایران، د کیش جزیری ته سفر وکړ. یو ورځ پس هغه ورک شو او موقعیت یی نامعلومه ده . اوس ښاغلی لونسن د امریکی هغه یرغملانو په جملی کی شامل شوی چه د امریکی په تاریخ کی اوږد وقت کی یرغمل پاتی شویدی. ښاغلی لونسن د مارچ په لسم تاریخ کی ۶۷ کلن کیږی. دی یو پخوانی اف بی آی متقاعد صاحب منصب دی چه د اف بی آی څخه په ۱۹۹۸ کال کی متقاعد شوی وو.
د اف بی آی تحقیقاتی اجراآت د ښاغلی لونسون د ورک کیدونه وروسته د دی د موقعیت موندولو د پاره روان دی. دری کاله مخکی په مارچ ۲۰۱۲ کی، د لونسن د ورکیدو په پنځه کلیزه وخت کی، اف بی ای د یو میلیون ډالرو د جایزی اعلان وکړ.

لطفاً د ښاغلی لونسن په باره نور معلومات په شمول د عکسونو او د جایزی معلومات دلوستلو د پار دا لاندی ویب پاڼی ته مراجعه وکړی. www.fbi.gov/levinson .

مونږ هیله مند یو چه هغه خلک چی د لونسن او یا یرغمل نیونکو په باره معلومات لری د اف بی ای سره په لاندی آدرس په وسیله تما س ونیسی: https://tips.fbi.gov

دا معلومات په محفوظ او پټه توګه ساتل کیږی او که څوک وغواری په ګمنامه توګه هم معلومات ورکولای شی.

###